

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۳۳ | مسلسل نمبر: ۱۲۳ | چهارشنبه، د جمادی الأولی ۲۸مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال




د ازبیکستان او افغانستان ترمنځ ګډ هوکړه‌لیک لاسلیک شوی، چې له مخې به یې د افغانستان کرنیز محصولات د ازبیکستان هوایي دهلېز له لارې منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا، اروپایي هېوادونو او د ازبیکستان بازارونو ته ولېږدول شي. دا ګام په داسې حال کې پورته شوی چې د اسلامي امارت لوړپوړو مسوولینو وار له مخه پر یوه هېواد د تکیې را کمولو په موخه د بدیلو لارو په کارولو ټینګار کړی. په رښتیا هم د هېواد د صادراتو او سوداګرۍ د پراختیا او یا هم د ګاونډیو هېوادونو له لوري د افغانستان د صادراتو او ترانزیټ پر وړاندې وخت پر وخت د خنډونو راولاړولو له پاره اړینه ده چې بدیلې لارې پیدا شي. د دې لارو څخه یوه هم هوایي دهلیزونه دي چې په کارولو سره به یې وکولای شو د افغانستان اقتصاد د یو شمېر هېوادونو له برمتې وژغورو. همدا اوس زموږ ګاونډي پاکستان د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ پر وړاندې خپل ټول بندرونه تړلي دي. صادرات او ترانزیټ دواړه بند دي، چې له امله یې د دواړو هېوادونو سوداګرو ته په میلیونونه ډالر زیان اوښتی دی. دا کار لومړی ځل نه دی، بلکې په پنځوسمه لسیزه کې هم یاد هېواد سوداګریز او اقتصادي مسایل له سیاست سره تړلي و او دا لارې یې بندې کړې وې. مطلب دغه ګاونډی چې هر وخت وغواړي پر افغانستان فشار راوړي، نو د اقتصادي او سوداګریزو مسایلو څخه د فشار د الې په توګه کار اخلي او غواړي پر افغانستان خپلې غوښتنې ومني. خو اسلامي امارت دا مخکې له مخکې په پوره دقت او ځرکتیا سنجولې او په پوره سنجش یې د دې فشار د له منځه وړلو او خنثی کولو له پاره ګامونه پورته کړي دي. د بدیلو ځمکنیو لارو په برخه کې افغانستان اوس مهال په یوه او دوو هېوادونو متکي نه دی. دا مهال افغانستان د منځنۍ اسیا او چابهار بندرونو په څیر ان له اروپا سره وصل دی او په دې برخه کې لا هم هڅې روانې دي چې د واخان دهلیز له لارې له چین سره هم وصل شي. همدا لامل و چې د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له سوداګرو سره په ناسته کې له پاکستان سره د هر ډول سوداګرۍ د نه ترسره کېدو اعلان وکړ او له سوداګرو یې په کلکه وغوښتل چې له بدیلو لارو خپله سوداګري ترسره کړي. له دې سره هممهاله یې د هوایي دهلیزونو د رامنځته کېدو له پاره د اریانا افغان هوایي شرکت څخه وغوښتل چې بهرنیو هېوادونو ته د صادراتو ترسره کېدو له پاره کارګو الوتکې وپیري او سوداګرو له پاره د صادراتو او وارداتو بیې راټیټې کړي. د اریانا افغان هوایي شرکت مسوولینو ویلي چې د نومبر له ۱٦مې به د هغو مالونو لېږد د یوې کیلو کرایه یو امریکایي ډالر وي، چې له افغانستانه صادرېږي او دغه راز به د وارداتي مالونو یوې کیلو لېږد کرایه اتیا سېنټه وي. دا یو ښه او پرځای ګام دی او له دې سره به موږ وکولای شو خپل سوداګریز او صنعتي تولیدات او محصولات پر وخت انتقال کړو. د هوایي دهلیزونو په جوړېدو سره به له یوه لوري پر یوه هېواد له متکي کېدو خلاص شو او له بل لوري به صادراتي توکي پروخت انتقال او د دې ترڅنګ به د ځینو محصولاتو لکه تازه میوې او نورو طبي بوټو د فاسدېدو مخه هم ونیول شي. دغه راز به افغانستان نور اړ نه وي چې که ګاونډي هېوادونه پرې خپلې سوداګریزې لارې تړلي، نو دوی به دې فشار ته تسلیمېږي. د هوایي دهلیزونو له لارې به زموږ سوداګري پراخه او له دې سره به مو نه سوداګر زیانویني او نه بزګران.

## د پنجشېر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



۲ صفحه

## له سکتوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل عالي کمېټې لومړۍ غونډه وشوه


۲مه صفحه

## وچې او تازه میوې؛ سږ کال یې له بدیلو سوداګریزو لارو د صادراتو کچه زیاته شوې


۴مه صفحه



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی


## د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۲ مه نېټه د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارله. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د




صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا اړینه وبلله او ویې ویل، چې افغانستان له کونړ سیند څخه نیولې د هلمند او فراه تر پراخو لمر لرونکو دښتو او د هرات او نیمروز تر چټکو بادونو پورې د برېښنا تولید لپاره بې شمېره سرچینې لري. هغه زیاته کړه، د برېښنا په برخه کې خودکفایي ته رسېدل اسلامي امارت په خپلو لومړیتونو کې نیولې او په دې برخه کې اساسي هڅې کوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د برېښنا په برخه کې په خودکفا کېدو سره به افغانستان د بې کیفیته وارداتو پر ځای باکیفیته توکي بهر ته صادروي او هېواد ته به د پانګې راتلو دروازې پرانیستل شي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ټولو سوداګرو او پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې د صنعت او په ځانګړې ډول د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه وکړي او اسلامي امارت داډ ورکوي، چې هر ډول اسانتیاوې ورته برابروي. د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه څلور مېګاواټه برېښنا تولیدوي، چې تر ډېره به د دغه ولایت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزې ورسره حل شي.

## له سکتوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل عالي کمېټې لومړۍ غونډه وشوه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو رئیس په مشرۍ له سکتوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل عالي کمېټې لومړۍ غونډه د روان کال د عقرب په ۲۱مه په مرمرینه



ماڼۍ کې ترسره شوه. په غونډه کې په سکتوري وزارتونو او ادارو کې د تفاهم لیکونو لاسلیک پروسې پر اوسني وضعیت، د ځنډ پر لاملونو او حل‌لارو هر اړخیز بحث وشو. د غونډې ګډونوالو د موسساتو د فعالیتونو د تنظیم او انسجام د شته طرزالعمل پر بشپړ پلي کېدو ټینګار وکړ او ویې ویل، په دې سره به اوسنۍ ستونزې حل او پروژې او پروګرامونه به د هېوادوالو له اړتیاوو سره سم پلي شي.

پر یادو موضوعاتو له هر اړخیز بحث وروسته تصمیم ونیول شو، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت دې هر تفاهم لیک د موسساتو په طرزالعمل کې د درج شویو ۱۵ ورځو په جریان کې له سکتوري ادارو سره تعقیب کړي، ترڅو ستونزه مشخصه او حل لاره ورته پیدا شي. دغه راز په غونډه کې پر دې هم هوکړه وشوه، چې له سکتوري ادارو څخه دې لومړیتوبونه راټول او له تمویلوونکو او موسسو سره دې شریک شي. دربیم پرېکړه دا وشوه، چې د موسساتو لپاره چمتو شوی طرزالعمل دې ټول ذیدخل اړخونه په بشپړ ډول تطبیق کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

ابادي

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه



## د کرنې وزارت اړوند د عوایدو لوړولو درې طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د کرنیزو څېړنو، کرنیزو تخمونو، د مالدارۍ خدمتونو او حیواني روغتیا او د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ریاستونو له لوري د عوایدو لوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته یادې طرحې د تایید وړ وبلل شوې او د نهايي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوې.

د یادو طرحو په تطبیق سره به د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو کیفیت او کمیت لوړ، بهرنیو هېوادونو ته به یې په صادراتو کې اسانتیاوې رامنځته او په ورته وخت کې به د کرنې وزارت عواید هم ورسره زیات شي.


# اخبار اقتصادی هفته

## شرکت‌های ایرانی و ترکی علاقه‌مند به معادن سرب و جست افغانستان

ذخایر سرب و جست در ولایت‌های مختلف کشور، به‌ویژه در غور، بامیان، فراه، غزنی و شماری دیگر از مناطق افغانستان وجود دارد. وزارت معادن و پترولیم اعلام کرده است که تاکنون قراردادهای متعددی در بخش معادن کوچک و بزرگ سرب و جست با شرکت‌های داخلی امضا شده است. همایون افغان، سخنگوی وزارت معادن و پترولیم، گفت: «در ولایت غور چهار معدن بزرگ داریم که برای هر کدام از آن‌ها حدود ۲۰۰ میلیون دالر و بیشتر سرمایه‌گذاری شده و یا در برنامه‌ریزی سرمایه‌گذاری قرار دارد.» این وزارت تاکید می‌کند که علاوه بر شرکت‌های داخلی، برخی شرکت‌های ایرانی و ترکی نیز برای سرمایه گذاری در معادن سرب و جست ابراز علاقه‌مندی کرده‌اند. سخنگوی وزارت افزود: «تمام قراردادها تاکنون با شرکت های داخلی است، اما اگر شرکت‌های خارجی هم سرمایه گذاری کنند، شرط ما این است که پروسس مواد معدنی در داخل افغانستان انجام شود.» در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی می‌گویند که سرمایه‌گذاری در معادن و پروسس آن می‌تواند علاوه بر ایجاد فرصت‌های کاری، زمینه رشد اقتصادی پایدار را نیز فراهم کند. این در حالی است که پس از روی‌کار آمدن امارت اسلامی در افغانستان، شمار زیادی از کشورها علاقه‌مندی خود را برای سرمایه‌گذاری در معادن افغانستان ابراز کرده‌اند و برخی از آن‌ها، از جمله چین، ایران، ترکیه و ازبیکستان، به‌طور عملی در این بخش سرمایه‌گذاری کرده‌اند.

## تلاش‌ها برای خودکفایی افغانستان و کاهش وابستگی به برق وارداتی

رییس شرکت‌های امارتی می‌گوید که برای رسیدن افغانستان به خودکفایی و اتکا به تولیدات داخلی، تلاش‌ها به‌گونه‌ی گسترده جریان دارد و به همین هدف، پروژه‌های بزرگی در بخش‌های زراعت و تولید انرژی آغاز شده است.



احمدجان بلال تاکید کرد که با اجرای پروژه‌های بزرگ تولید برق در داخل کشور و کاهش وابستگی به واردات، قراردادهایی به ظرفیت هزاران میگاوات برق با شرکت‌های داخلی و خارجی امضا شده است. او افزود: «تلاش ما این است که افغانستان به‌سوی خودکفایی حرکت کند و متکی به تولیدات خود باشد. در بخش انرژی برق نیز که نیاز اساسی زندگی است، تکیه‌ی ما بیشتر بر واردات بوده و می خواهیم تولید داخلی را افزایش دهیم.» به گفته‌ی بلال، در چارچوب شرکت‌های امارتی، برای سایر نهادها و شرکت ها نیز زمینه‌ی فعالیت فراهم شده است و مهاجرانی که از کشورهای همسایه، به‌ویژه ایران و پاکستان، به کشور بازمی‌گردند، در استخدام در پروژه‌های این شرکت‌ها در اولویت قرار دارند. به گفته‌ی مسؤلان شرکت‌های امارتی، در چارچوب این نهاد، ۴۴ شرکت دیگر فعالیت دارند که در آن‌ها برای صدها هموطن در بخش‌های زراعت، صنعت، مواد خوراکی، تولید انرژی، خدمات پستی و سایر حوزه‌ها زمینه کاری فراهم شده است.

# افزایش حاصلات ممپلی در هلمند

حاصلات ممپلی در ولسوالی نادعلی ولایت هلمند امسال افزایش یافته است.مسـؤلان ریاسـت زراعت می‌گویند میزان حاصلات از ۱۵ هزار و ۱۷۲ تُن به بیش از ۱۵ هزار و ۵۰۰ تُن رسـیده و این افزایش، نتیجه آگاهی بیشـتر دهاقین بوده اسـت. شـفیق‌الله مبین، مسـؤل پلان و هماهنگی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری هلمند گفت: «سال گذشته ۴٬۳۳۵ هکتار زمین ممپلی کشت شده بود که حاصلات آن ۱۵ هزار و ۱۷۲ تُن بود؛ اما امسال ۴٬۲۷۴ هکتار زمین زیر کشت ممپلی رفته که از آن ۱۵ هزار و ۵۱۴ تُن حاصلات به‌دسـت آمـده اسـت.» در همین حال، دهقانان از ادامهٔ خشکسـالی نگران‌اند و می‌گویند ممکن است خشکسالی بر کشت‌های آینده اثر منفی بگذارد.

دهقان قدرت‌الله، گفت: «امسـال این زمین‌ها حاصلات خوبی داشتند، هم گندم و هم ممپلی.» محمدخان، دیگر دهقـان هلمند، گفت: «سـال‌های دیگر مثل امسـال حاصلات خوبی نمی‌داد، امسـال حاصلات بی‌مرض بود؛ اما مشکل کم‌آبی یک چالش بزرگ در این ولایت است.» به گفتهٔ مسئولان، پس از ممنوعیت کشت مواد مخدر، بسـیاری از دهقانان در هلمند به‌سوی کشت‌های بدیل از جمله پنبه، سویا، کنجد، ممپلی و احداث باغ‌های میوه‌دار روی آورده‌اند.

# افزایش ۴۵ میلیون دالری صادرات افغانستان در یک ماه گذشته

اداره ملی احصاییه و معلومـات از افزایش بیش از ۴۵ میلیون دالر در صادرات کشور طی یک ماه گذشته خبر داده اسـت. به گفته سـخنگوی ایـن اداره، صادرات افغانستان در ماه میزان بیش از ۲۷۰ میلیون دالر بوده، در حالی که این رقم در ماه گذشـته (سنبله) نزدیک به ۲۳۰ میلیون دالر بوده است. این صادرات به کشورهای هند، پاکستان، ترکیه و امارات متحده عربی انجام شده و بیشترین واردات از کشورهای ایران، چین، پاکستان و امـارات متحـده عربـی بوده اسـت. حلیـم رافع، سـخنگوی اداره ملی احصاییه و معلومات، گفت: «در ماه سنبله سـال ۱۴۰۴، مجموع ارزش صادرات کشور ۲۲۹,۸ میلیون دالر بود. آمار نشان می‌دهد که در ماه میزان سـال ۱۴۰۴، ارزش صادرات نسبت به ماه سنبله همین سـال، ۴۵,۱ میلیون دالر افزایش یافته است.»

این رشـد صادرات در حالی صـورت گرفته که تاجران افغان همچنان با چالش‌هایی مانند بسـته بودن گذرگاه های مشـترک با پاکستان، مشـکلات بانکی و موانع حمل‌ونقل روبه‌رو هسـتند. با این حال، اتاق زراعت و مالـداری تأکید دارد که بـرای افزایش میزان صادرات کشـور، باید در زمینه پروسـس تولیدات داخلی تلاش صورت گیرد.



# وچـې او تازه میـوې؛ ســـرکال‌یـــې‌له‌بدیلـــوســـوداګریزو لارو د صـــادراتـــو کچه زیاتـــه شـــوې

قیس احمد

## سریزه

اسـلامي امارت د تبرو ځلـورو کلونو پرمهـال د هېواد د اقتصـادي ودې په موخه په مختلفو سـکټورونو کې جدي هڅې پیل کړې دي. له دې سکټورونو یو هم سوداګرې ده چــې د پخوا په پرتله یــې حجم د پام وړ زیات شــوی. د سوداګرې د حجم زیاتېدو یوه عمده او مهمه برخه صادرات دي، چې د لومړي ځل لپاره په تېرو ځلورو کلونو کې تر دوه میلیاردو ډالرو واوښتل.

د افغانسـتان د صادراتـو یوه مهمه برخـه وچې او تازه میوې جوړوي، چې د کیفیـت او بنې له امله په نړیواله کچه بنـه شـهرت لري. اسـلامي امارت د تېرو ځلورو کلونو پرمهال ګاونډیو، سـیمې او د نړۍ هېوادونو ته د افغانسـتان د صادراتو او په ځانګړې ډول د وچو او تازه میـوو د لېږلو په موخه د لویو سـوداګریزو لارو بیارغونه پیل کړې ده، د اوسـپنې پټلۍ شبکې یې غځولې دي او په دې وروسـتیو کې هڅه دا ده، چې پر ځمکنیو لارو سربېره د هوایي کارګـو له لارې هم د وچو او تازه میوو صادرات ولري.

اسـلامي امارت کوښښ کوي چې د سـوداګرۍ او په ځانګړې ډول د وچو او تازه میوو د صادراتو په برخه کې پر یو هېواد متکي نــه وي، بلکې په یو وخت کې له څو مختلفـو لارو ټولو هېوادونو ته صــادرات ولري. موږ په همدې اړه د اسـلامي امارت هڅې ته لنډه کتنه کوو.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته نامه آبادی


## صادرات

صادرات له يو هېواد څخه نورو هېوادونو ته د توکو او خدماتو د خرڅلاو او لېږدولو په مانا دي. دغه بهير د نړيوالې سوداګرۍ يوه برخه ده او د هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري. افغانستان هم په مختلفو برخو کې نورو هېوادونو ته صادرات لري، چې مهم هغه يې وچې او تازه ميوې دي.

## وچې او تازه ميوې

افغانستان يو کرنيز هېواد دی او زياتره وګړي يې پر کرنه مصروف دي. د دغه سکتور يوه مهمه برخه بنوالي ده چې په افغانستان کې يې د پخوا په پرتله پراخوالی موندلی دی. د افغانستان تر ټولو مشهورې وچې او تازه ميوې هندوانې، خټکي، منې، انار، زردالو، انځير، انګور، بادام، چهارمغز، مميز، جلغوزي او آلوبخارا دي.

## ۱۴۰۴ کال کې د ميوو صادرات

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو پر اساس، افغانستان د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۵۸۰ ميليون ډالرو په ارزښت وچې او تازه ميوې بهرنيو هېوادونو ته صادرې کړې دي. دغه صادرات د ځمکنيو لارو، ترانزيټ او هوايي دهليزونو له لارې ترسره شوي دي. د ۱۷۳,۹ ميليون ډالرو په ارزښت د ايران، پاکستان، ازبېکستان، ترکمنستان او تاجکستان له لارې وچې او تازه ميوې ترانزيټ شوي دي او هڅه دا ده، چې دغه کچه نوره هم لوړه شي. همدا ډول بيا د ۱۸,٦ ميليون ډالرو په ارزښت د هوايي دهليزونو له لارې هم وچې او تازه ميوې صادرې شوي دي.

دغه صادرات هند، روسيې، چين، ازبېکستان، سعودي عربستان، قزاقستان، قطر، ايران، عراق، متحده عربي اماراتو، پاکستان، تاجکستان او يوشمېر نورو هېوادونو ته شوي دي.

انځر، پسته، بادام، چهارمغز، مميز، جلغوزي، انګور، زردالو، انار، منې، خټکي، ګيلاس، هندوانې، ناک او يوشمېر نور هغه ميوې دي چې بهر ته صادرې شوي دي.

په ۱۴۰۳ لمريز کال کې د ٦۴۳ ميليون ډالرو په ارزښت وچې او تازه ميوې صادرې شوي وې، خو د ۱۴۰۴ لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې بيا ۵۸۰ ميليون ډالرو په ارزښت وچې او تازه ميوې صادرې شوې دي، چې د تېر کال په پرتله ډېر زياتوالی ښيي. دليل يې دا دی، چې اسلامي امارت د سوداګرۍ په برخه کې پر يو هېواد او يوازې پر يوه لار تکيه نه ده کړې؛ بلکې د خپلې اقتصاد محوره پاليسۍ له مخې غوارې سوداګريزې بديلې لارې فعالې او له ټولو ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره ښه تجارت ولري.

## بديلې سوداګريزې لارې

د افغانستان اسلامي امارت واک ته د رسېدو له لومړيو ورځو د هېواد اقتصاد ته ځانګړې پاملرنه کړې ده او په دې برخه کې يې ډېر تمرکز پر سوداګرۍ کړی دی. د سوداګرۍ د زياتېدو لپاره يې اساسي ګامونه اخيستي چې مهم هغه يې د بديلو سوداګريزو لارو پيدا کول دي.

اسلامي امارت د هېواد دننه د ټولو لويو سوداګريزو لارو لکه کابل – کندهار، سالنګ، کابل – جلال اباد، خواف – هرات اوسپنې پټلۍ شبکې د پاتې فازونو جوړول، د حيرتان – مزارشريف اوسپنې پټلۍ شبکې بيارغونه، د سوداګريزو بندرونو پراخول او هلته د خدماتو د وړاندې کولو د وخت غځول او ټولې اړينې اسانتياوې رامنځته کول، د ولايتونو ترمنځ د نښلېدونکو سړکونو بيارغونه او دې ته ورته اړين ګامونه پورته کړي دي. دې ګامونو له شک پرته د هېواد دننه سوداګري اسانه او پراخه کړې ده او په ورته وخت کې هغه توکي چې بهر ته صادرېږي، په لنډ وخت او لږ لګښت سره په ښه ډول تر اصلي منزل پورې رسېږي. د اسلامي امارت له راتګ وړاندې د معياري سوداګريزو لارو نشتون د سوداګريزو توکو د انتقال پر وړاندې لوی خنډ و، چې له امله يې ډېری توکي په ځانګړې ډول تازه ميوې خرابېدې.

د همدې لارو د جوړولو له برکته د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په مستقيم ډول له افغانستان څخه ايران، ازبېکستان، تاجکستان او پاکستان ته د ۹۷,۵ ميليون ډالرو په ارزښت وچې او تازه ميوې صادرې شوي دي، چې د پخوا په پرتله د پام وړ پرمختګ ښيي.

پر دې سربېره اسلامي امارت د ترانزيټ لارو بيا فعالولو ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده. په دې اړه يې له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره پوره همغږي رامنځته کړې او ډېری ستونزې حل شوي دي. د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يوازې د ايران، پاکستان، ازبېکستان، ترکمنستان او تاجکستان له لارې د ۱۷۳,۹ ميليون ډالرو په ارزښت وچې او تازه ميوې ترانزيټ شوي دي، چې د پخوا په پرتله د پام وړ لوړ رقم دی. تمه ده چې د روان کال تر پايه به دا شمېره دوه برابره نوره هم لوړه شي.

له دې ورهاخوا د هوايي دهليزونو فعالولو ته هم اسلامي امارت ځانګړې پاملرنه کړې ده. د سږ کال په لومړيو شپږو



میاشتو کې د هوايي دهلیز له لارې د ۱۸,٦ میلیون ډالرو په ارزښت یوازې وچې او تازه میوې صادې شوې دي. په دې وروســـتیو کې هڅه دا ده چې افغانستان د سوداګریزو توکو په ځانګـــړي ډول د وچو او تازه میوو د صادراتو لپاره هوايي کارګـــو الوتکې وپېري. په دې سره به ســـوداګرې د پام وړ زیاته او سوداګرو ته به ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي.

د اوســـپنې پټلۍ شبکو غځول او بیارغونه بل هغه ګام دی، چې اســـلامي امارت د ســـوداګرۍ د پراختیا او اسانتیاوو رامنځته کېدو په موخه پورته کړی دی. اوسمهال د خواف – هرات، اقینې، تورغونډۍ او حیرتان اوسپنې پټلۍ شبکې فعالې دي، چې په ورځني ډول پرې زرګونه ټنه ســـوداګریز توکي انتقالیږي. د اســـلامي امارت هڅه دا ده چې په ټول هېواد کې د اوسپنې پټلۍ شبکې وغځوي او پردې سربېره د هغو شـــبکو په غځولو کې هم پوره همـــکاري وکړي، چې افغانستان د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره نښلوي. په دې برخه کې مهمې شبکې د افغان – ټرانس، د خواف – هرات شـــبکې پاتې فازونه، تورغونډۍ – هرات – ســـپین بولدک اوسپنې پټلۍ شـــبکه او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د ټولو د تطبیق چارې رواني دي.



**پایله**

افغانســـتان اوسمهال د سوداګرۍ په برخه کې په یو هېواد او یوې لارې تکیه نه دی؛ بلکې سوداګریزې اړیکې یې له ټولو ګاونډیو، ســـیمې او نړۍ هېوادونو سره پراخې او زیاتې شوې دي. افغانســـتان دا مهال د سوداګریزو توکو د انتقال لپاره څمکنیو لارو، اوسپنې پټلۍ شبکو، هوايي دهلیزونو او ترانزیتي لارو څخه استفاده کوي. اســـلامي امارت د یادو سوداګریزو لارو د جوړونـــې او بیارغونې په برخه کې مهم او رغنده ګامونه پورته کړي، چې پر مټ یې د صادراتو او وارداتو بهیر اسانه او ګچه یې زیاته شـــوې ده. یوازې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۵۸۰ میلیون ډالرو په ارزښت وچې او تازه میوې بهرنیو هېوادونو ته د همدې لارو په واسطه انتقال شوې دي، چې د تېر په پرتله یې حجم زیات دی. د اسلامي امارت هڅه دا ده چې یادې سوداګریزې لارې په معیاري ډول جوړې او ورغول شي، څو ورسره د ســـوداګرۍ حجم زیات او افغانســـتان د ګاونډیو او سیمې هېوادونو د وصل په برخه کې خپـــل رول په اســـاسي ډول ولوبـــوي، چې دا نـــه یوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولو هېوادونو په ګټه ده.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکايي ډالر | ٦٦,٣٥؋ | ٦٦,٤٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٢٥؋ | ٢٢٥؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ٠,٥٩؋ | ٠,٦٠؋ |
| ١ | اروپايي یورو | ٧٦,٩١؋ | ٧٦,٩٧؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٢؋ | ٠,٨٢؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٧٤٩؋ | ٧٥٠؋ |
| ١ | انګلیسي پونډ | ٨٧,٣٤؋ | ٨٧,٤١؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٧,٦٩؋ | ١٧,٧١؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٠٧؋ | ١٨,٠٨؋ |
| ١ | چیني ین | ١,٥٧؋ | ١,٥٧؋ |

